# د ابتدايي بانکي حساب په اړه معلومات



1. **ټول هغه کسان چې په قانوني توګه په اروپايي اورپا کې اوسېږي حق لري چې د اوتریش په یو بانک کې یو بنسټیز اکونت پرانیزي.**
   - بی کوره او د کډوالۍ غوښتونکی خلک هم د ابتدایی اکونت درلودلو حق لری.
   - همدارنګه بنسټيز اکونت د سوداګریزو فعالیتونو کارولو لپاره ممنوع ګڼل کیږي.

2. **بنسټيز اکونت اعتبار څخه زيات مالی اجراات**

ټول مالی اجراات یواځي په اکونت کې د کافي پيسو شتون په صورت کې د اجرا وړ بلل کېږي.

3. **تاسو د یو عادی اکونت په توګه له خپل ابتدایی اکونت څخه کار اخیستلای شي.**

بنسټيز اکونت تاسو ته لاندی آسانتیاوی لری:
   - د کونترونو او اتومات ماشینونو څخه کارونه.
   - د پیسو لیږد، دسپاربنتنو تنظیمول، او د مستقیمو لګښتونو اجرا کول.
   - د دکانونو او انترنتی معاملاتو ترسره کولو په موخه د بانکی کارت له لارې د ورکړو اجرا
   - د آنلاین بانکی خدمتونو ترسره کول.

4. **د بنسټيز اکونت د راکړه او ورکړه وړتیا او شمیر پام نیولو سره سم ، په تولیېزه توګه په کال کې د 83,45 یورو څخه زیات لګښت درلودلی نشی.**

**5 په هر ډول ، هغه کسان چې د لږو پیسو خاوند دی، په کال کې د 41,73 ایرو څخه زیات لګښت درلودلی نشی.**

لاندی کسان مستحق ګڼل کیږي:

- هغه کسان چې د قانون له مخی، تر ټولو ټیټې درجې عاید (معاش، تقاعد، د بی کاری پیسی، د ضمانت سوشیال ولري.
- هغه کسان چې د فیس ورکولو څخه معاف شوی وی
- هغه کسان چې پخپله ورشکست شوی وی.
- پناه غوښتونکي،
- بې کوره.

**6 که چیری یو څوک د اوتریش په یو بانک کې، اکونت ولری، نو اړینه ده چې د بنسټیز حساب پرانیستلو پرمهال خپل مخکنی حساب بند کړي:**

- د پخوانی حساب بندولو څخه پرته، بانک کولای شی د ستاسو بنسټیز حساب غوښتنه رد کړي.
- په کومه بانک کې چې بنسټیز حساب پرانیستل کیږي ، د اکونت د بدلولو غوښتنه باید د پیرودونکی لخوا تر سره شی.
- که چیری پخوانی اکونت د قرض ورکولو په موخه بند شوی وی، نو د نوموړی اکونت بندولو څخه پرته ، د بنسټیز اکونت مستحق ګڼل کیږي.
- که چیری پخوانی اکونت د تعلیق په حالت وی او یا هم په بل بانک کې پرانیستل شوی وی، بنسټیز اکونت پرانیستل کیږي.

**7 بانک یوازی په لاندی ځانګړو حالاتو کې بنسټیز اکونت لغو کوی:**

لغوه کول په ځانګړي ډول هغه وخت امکان لري کله چې

- اکونت د جرمی چاري په موخه کارول شوی وی
- اکونت د 24 میاشتو په موده کې په بشپړه ډول کارول شوی نه وی.
- د اکونت څښتن ، بل دویم بانکی اکونت خلاص کړي.

**8 تاسی کولی شی زموږ د (بنسټیز اکونت د ستاسو لپاره) فولدر او ویب سایت له لاری د بنسټیز اکونت په اړه لازیات معلومات ترلاسه کړي. www.konsumentenfragen.at**

په لاندینی پتو کې زموږ فولدر هم موندلی شی.

- شي www.sozialministerium.at/broschuerenservice
- برښنالیک broschuerenservice@sozialministerium.at
- د ټلیفون شمېره: 25 25 86-00 1711 43+.

**9 نیووکی:**

که چیری د کومی که چېرته پرته له توجیه څخه څخه پرته، ستاسي بنسټیز اکونت پرانیستلو غوښتنه رد شی او یا هم د بنسټیز اکونت په اړه کومي نوری ستونزی لري، نو کولای شی زموږ د ایمیلونو (Thomas.Haghofer@sozialministerium.at یا Beate.Blaschek@sozialministerium.at) یاو تیلفون شمېرو (16 25 86-00 1711 43+ یا 01 25 86-) له لاری خپل موضوع په جرمنی او یا انګلیسی ژبو سره شریکه کړئ.

**د امتیاز څښتن:**

**د نشر څښتن او خپروونکی:** د فدرال تولنیز ،روغتیا، پاملرنه او مصرفوونکو ساتنی چارو وزارت Stubenring 1, 1010 Wien **د چاپ او نشر ځای:** وین **سرلیک:** © istockphoto.com/Romolo Tavani **هڅوانه او چاپول:** د فدرال تولنیز ،روغتیا، پاملرنه او مصرفوونکو ساتنی چارو وزارت **ګڼه:** 2020